د افغانستان اسلامی جمهوریت
مالیې وزارت

# شتمني

د ماليې وزارت اونيزه خپرونه

زموږ ماليه — زموږ هیواد — زموږ راتلونکی

شماره یک صد و شصت چهارم | یک شنبه | ۲۴ سنبله سال ۱۳۹۸ | سال تاسیس : ۱۳۹۴ هجری

## عناوین مهم

دماليي وزارت سرپرست: موږ د افغانستان سترو ښارونو ته د اوبو رسوني او د هیواد د اوبو ښه مدیریت په برخه کې د نړیوال بانک د تخنیکي همکاریو غوښتونکي یو



دهمین جلسهٔ سال ۱۳۹۸ شورای عالی اقتصادی دایر گردید



د افغانستان او سعودي عربستان تر منځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د پراختیا په موخه ناسته وشوه



سرمایه گذاری سکتور خصوصی در بخش تولید انرژی از منابع داخلی افغانستان محور گفتگوی سرپرست وزارت مالیه و معاون بانک جهانی برای آسیای جنوبی



# د ماليې وزارت سرپرست: موږ د افغانستان سترو ښارونو ته د اوبو رسونې او د هیواد د اوبو ښه مدیریت په برخه کې د نړیوال بانک د تخنیکي همکاریو غوښتونکي یو



د ماليې وزارت سرپرست او د زېربناء په چارو کې د ولسمشرۍ عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي پروفیسور محمد همایون قیومي، د ۱۳۹۸لمریز کال د۱۳۹۸لمریزکال د وږي میاشتې په ۲۲ مه نېټه د امریکا متحده ایالتونو واشنګټن ډي سي ته سفر وکړ او د نړیوال بانک له چارواکو سره یې وکتل.

په دې کتنه کې چې د امریکا متحده ایالتونو لپاره د افغانستان سفیرې اغلې رویا رحماني، هم شتون درلود، د ماليې وزارت سرپرست د نړیوال بانک له استازو سره د افغانستان سترو ښارونو ته د ښښلو پاکو اوبو په رسېدو، د هیواد د اوبو ښه مدیریت کولو، په دې برخه کې په پانګونې، د اوبو د سرچینو د تنظیم په برخه کې د نړیوال بانک په تخنیکي همکاریو، د دې برخې د ښه مدیریت لپاره د قانوني چوکاټ په رامنځ ته کېدو او د اوبو له سرچینو څخه د اغېزمنې ګټې اخیستنې په تړاو بحث او د نظرونو تبادله وکړه.



د ماليې وزارت سرپرست، سترو ښارونو، کلیو او بانډو ته د اوبو رسولو ارزښت په هکله د معلوماتو وړاندې کولو ترڅنګ، د نړیوال بانک له چارواکو وغوښتل، څو له افغانستان سره سترو ښارونو ته د ښښلو پاکو اوبو رسولو او د هیواد د اوبو د سرچینو ښه مدیریت کولو لپاره پانګونه او تخنیکي همکاري وکړي.

د نړیوال بانک چارواکو له افغانستان سره د خپلو تخنیکي همکاریو په برخه کې ډاډ ورکړ.

د امتیاز خاوند : شمروز خان مسجدی د عامه اړیکو ریس او ویاند
مســـــــوول مدیر : داود نظری
کـــــــــــتنپلاوی: فرید نوښت ، فردین معرفتی ،محبوبه بابری
تخنیکي همـــکار : ،عتیق الله عتیق، لینا شعیبی
دیزاینـــــــــــــر :
بربښنالیـــــــــک : tamas@mof.gov.af
اړیکـــــــشمیرې: ۰۲۰۲۱۰۶۴۰۹





# دهمین جلسهٔ سال ۱۳۹۸ شورای عالی اقتصادی دایر گردید

دهمین جلسهٔ سال ۱۳۹۸ شورای عالی اقتصادی به تاریخ ۱۷ سنبلهٔ سال ۱۳۹۸۸ به ریاست محترم پروفیسور محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیربناء و اشتراک اعضای این شوراء دایر گردید.

در این جلسه در رابطه به تائید صورت جلسهٔ شماره(۹) سال ۱۳۹۸۸ شورای عالی اقتصادی، طرح حمایوی شرکت های هوایی داخلی، تعدیل در قرارداد اجرائیوی و قرارداد خریداری برق پروژهٔ بند برق کجکی، قرارداد پروژهٔ برق رسانی ولایت بدخشان، طرح کرایه دهی پایه های برق د افغانستان برشنا شرکت و دیگر مسایل مرتبط بحث و تبادل نظر صورت گرفته و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

## د افغانستان او سعودي عربستان تر منځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د پراختیا په موخه ناسته وشوه



د افغانستان او سعودي عربستان شاهي هیواد تر منځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د پراختیا په موخه ناسته د۱۳۹۸المریزکال د وږي میاشتي په ۱۲ مه نېټه د مالیې وزارت سرپرست او د زیربناء په چارو کې د ولسمشرۍ عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي پروفیسور محمد همایون قیومي، په مشرۍ په مالیې وزارت کې جوړه شوه.

په دې ناسته کې د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست ښاغلي محمد ګل خلمي، د صنعت او سوداګرۍ، کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ، کار او ټولنیزو چارو، کانونو او پترولیم، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارتونو مرستیالانو همداشان د افغانستان برښنا شرکت، د مرکزي احصائیې او د تخنیکي او مسلکي تعلیماتو خپلواکې اداري رئیسانو او د سوداګرۍ او پانګونې خونې نخنیکي او پالیسۍ مرستیال ګډون کړې وو، چې موخه یې افغانستان ته د سعودي عربستان د سوداګرۍ او پانګونې وزیر په مشرۍ د یاد هیواد د لوړپوړي پلاوي سفر ته چمتو والی وو چې په نږدې راتلوونکې کې به راشي.

په دې ناسته کې د سولري او بادي انرژۍ، د کرنې، کانونو په ځانګړې توګه د اوسپنې او مسو په برخه کې د سعودي عربستان په پانګونې، د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې د یاد هیواد په همکارۍ، د طبي بوټو، میو او سبزیو په ځانګړې توګه یاد هیواد ته د افغانستان زعفرانو په صادرولو، په سعودي عربستان کې د دواړو هیوادونو د تولیداتو د نندارتون په جوړېدو، په ټولنیزو، کلتوري او لوړو زده کړو په برخه کې د افغانستان او عربستان تر منځ په دوه اړخیزو همکاریو او یو شمېر نورو اړوندو مسایلو بحث او هر اړخیزې خبرې وشوې.



## سرمایه گذاری سکتور خصوصی در بخش تولید انرژی از منابع داخلی افغانستان محور گفتگوی سرپرست وزارت مالیه و معاون بانک جهانی برای آسیای جنوبی

محترم پروفیسور محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیربناء طی سفر به شهر واشنگتن دیسی ایالات متحدهٔ امریکا به تاریخ ۲۲ سنبله ۱۳۹۸ با محترم هارتویگ شیفر، معاون بانک جهانی برای آسیای جنوبی در رابطه به تطبیق پروژه های مهم زیربنائی، تولید انرژی از منابع داخلی افغانستان، حمایت بانک جهانی از اتصال منطقوی، سرمایه گذاری سکتور خصوصی در تطبیق پروژه های زیربنائی و تولید انرژی از منابع داخلی افغانستان و دیگر مسایل مرتبط بحث و تبادل نظر نموده و خواهان حمایت و همکاری این بانک در زمینه گردید.

معاون بانک جهانی برای آسیای جنوبی از تداوم حمایت های شان در بخش های متذکره با افغانستان اطمینان داد.

همچنان جانبین فیصله نمودند تا موضوع سرمایه گذاری سکتور خصوصی در بخش پروژه های مهم زیربنائی به خصوص تولید انرژی از منابع داخلی افغانستان در جلسات آینده بانک جهانی و صندوق بین المللی پول که قرار است در اکتوبر آینده در واشنگتن دیسی برگزار گردد، مورد غور و بررسی قرار گیرد.

## د ماليې وزارت سرپرست د اباد راهان پارس نړيوالې ډلې له رئيس سره په يو شمېر زېربنايي موضوعاتو خبرې وکړې



د ماليې وزارت سرپرست او د زېربناء په چارو کې د ولسمشرۍ عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي پروفيسور محمد همايون قيومي، د1398لمريزکال د وږي مياشتې په ۱۱ مه نېټه د اباد راهان پارس نړيوالې ډلې له رئيس ښاغلي فرزاد اناري او د هغه له يو شمېر همکارانو سره په ماليې وزارت کې وکتل.

په دې ليدنه کې چې په مشهد کې د افغانستان جنرال قنسول ښاغلي عبدالجبار انصار، هم شتون درلود، د اباد راهان پارس نړيوالې ډلې رئيس، د ماليې وزارت سرپرست ته په تېرو ۱۵ کلونو کې په افغانستان کې د نوموړې ډلې د زېربنايي کړنو، لکه د هرات – تورغونډی، اسلام کلا، هرات ښار هوايي ډګر، د ميدان ښار- باميان سړک او د هرات – خواف درېيمې ټوټې ربل کرښې پروژو په تړاو هر اړخيز معلومات ورکړل.

همدا شان دواړو لوريو، په افغانستان کې د ايراني سوداګرو په پانګونه، د ساتنې او پالنې واحد سيستم جوړولو لپاره د نوموړې ډلې په همکارۍ، د سړکونو رغولو او جوړولو په برخه کې د دې ډلې په لېوالتيا، بندونو او تونلونو، د هرات- تورغونډۍ پروژې له بشپړېدو وروسته د اباد راهان پارس نړيوالې ډلې د حساب په تصفيه کولو او يو شمېر نورو ورته مسايلو په تړاو خبرې وکړې.

## سرپرست وزارت ماليه با رئيس اجرائيوی شرکت های تکنالوژی معلوماتی ايرماکس ملاقات نمود



محترم پروفيسور محمد همايون قيومی، سرپرست وزارت ماليه و مشاور ارشد مقام عالی رياست جمهور در امور زيربناء به تاريخ ۱۲ سنبله ۱۳۹۸ با محترم صمد بولات بيکوف، رييس اجرائيوی شرکت های تکنالوژی معلوماتی ايرماکس (Ermax) ديدار نمود.

در اين ديدار، رئيس اجرائيوی شرکت متذکره در رابطه به انتقال انترنت به افغانستان پروپوزل خويشرا ارائه نموده گفت اين پروپوزل به وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی شريک ساخته شده و ما ميخواهيم برای کوتاه مدت انترنت را در اختيار افغانستان بطور رايگان قرار دهيم تا جانب افغانستان سرعت و کيفيت انترنت ارائه شده را بررسی نموده و نظريات و پيشنهادات خويشرا با ما شريک نمايند.

سرپرست وزارت ماليه ضمن تشکری از رئيس شرکت متذکره گفت ما می خواهيم که پروپوزل شرکت های تکنالوژی معلوماتی ايرماکس را در کميتهٔ تکنالوژی معلوماتی متشکل از وزارتخانه های ماليه، مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، ادارات تدارکات ملی و احصائيه مرکزی از نگاه تخنيکی بررسی نموده و نظريات و پيشنهادات خويشرا با شما شريک خواهيم ساخت

قابل تذکر است که گروپ شرکت های تکنالوژی معلوماتی ايرماکس، يک شرکت معتبر قرغيزستان است که ميخواهد انترنت روسيه را به افغانستان انتقال دهد. اين شرکت در بخش های ارائه خدمات تکنالوژی معلوماتی و انترنت کار و فعاليت می نمايد.

## *د افغانستان حکومت او اروپايي ټولنې ترمنځ د دولت جوړونې قرارداد پنځلسمه تخنيکي ناسته وشوه*



د ماليې وزارت د څار، تحليل او راپور ورکونې لوی رئيس ښاغلي محمد ناصر صديقي، او د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې د مرستو استازې ښاغلي ډېوېډ بيرتون، په ګډه مشرۍ د دولت جوړونې قرارداد پنځلسمه تخنيکي ناسته (SRBC) د1398لمريزکال د وږي مياشتې په ۲۰ مه نېټه د افغانستان حکومت او اروپايي ټولنې ترمنځ په ماليه وزارت کې وشوه.

په دې ناسته کې چې د حکومت مختلفو ادارو استازو ګډون کړی وو، د ملي بوديجې په ترتيب کې د اصلاحاتو په پلي کېدو، د حکومت د لومړيتوبونو په پام کې نيولو سره د بوديجې په اجرا، عوايدو راټولېدو او پايداره مالي ودې ته د افغانستان په رسېدو، ماليه ورکوونکو ته د اسانتياوو په رامنځ ته کېدو، ولايتونو کې د ماليه ورکونې د دفترونو په جوړېدو، د کانونو د استخراج په برخه کې د اصلاحاتو په پرمختګ، د کانونو لپاره د راتله قانوني چوکاټ په جوړېدو او په ولايتونو کې د کانونو په رسمي استخراج، د کانونو غير قانوني استخراج په مخنيوي او په قانوني بڼه د کانونو د استخراج په ملاتړ، د کانونو سکټور په اصلاحاتو، اداري اصلاحاتو پلي کولو، د وړتيا له مخې د افغانستان په ملکي ادارو کې د ټيټ پوړو او لوړ پوړو مامورينو په ګمارنه، د بشري سرچينو په ښه مديريت، د ولسي تړون له لارې د پروژو په پلي کولو، کليو او بانډو کې د خدمتونو په وړاندې کولو او نورو ورته مسايلو په تړاو خبرې او د نظرونو تبادله وشوه. همدا شان د حکومت د بېلابېلو ادارو د خپلو کړنو او فعاليتونو د لاسته راوړنو په تړاو ګډونوالو ته لنډ پريزينټېشن وړاندې کړ.

پرېکړه وشوه، چې د افغانستان حکومت او اروپايي ټولنه دې هڅه وکړي، څو ټول ژمنه شوي شاخصونه د روان کال ترپايه بشپړ کړي.



## سرپرست وزارت مالیه: پول تعهد شدۀ عربستان سعودی از طرف د افغانستان بانک به اسرع وقت برای شهداء و مجروحین حادثۀ منا تسلیم داده خواهد شد

**محترم پروفیسور محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیربناء بتاریخ ۱۴ سنبله ۱۳۹۸ با محترم سید جلال کریم، سفیر افغانستان مقیم کشور شاهی عربستان سعودی در مقر وزارت مالیه دیدار نمود.**

در این دیدار، جانبین در رابطه به قربانیان حادثه منا در مسیر جمرات مراسم حج بیت الله شریف و کمک عربستان سعودی برای شهداء و زخمیان این حادثه بحث و گفتگو نمودند.

در حادثۀ منا که در سال ۱۳۹۴ اتفاق افتاد، در اثر سقوط جرثقیل تعدادی از حجاج شهید و مجروح گردیدند که شماری از حجاج افغان نیز مشمول آن بودند. جلالتمآب سلمان بن عبدالعزیز آل سعود، خادم حرمین شریفین برای شهداء این حادثه مبلغ یک میلیون ریال سعودی و برای مجروحین مبلغ مبلغ ۵۰۰ هزار ریال سعودی تعهد نموده بودند، که از این بابت ۲۳ چک از طرف سفیر افغانستان مقیم عربستان سعودی به سرپرست وزارت مالیه تسلیم داده شد.

سرپرست وزارت مالیه گفت که مبالغ متذکره به زودترین فرصت از طرف د افغانستان بانک به خانواده های متضرر اعم از شهداء و مجروحین سپرده خواهد شد.



## نخستین جلسه در مورد ماستر پلان انکشاف شهری ولایات نورستان و کنر دایر گردید

**مطابق به حکم جلالتمآب محمد اشرف غنی، رئیس جمهور افغانستان مبنی بر تهیه ماسترپلان انکشاف شهری ولایات نورستان، کنر، بدخشان، پنجشیر و لغمان، محترم پروفیسور محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری درامور زیربناء مؤرخ ۱۱ سنبله ۱۳۹۸ با محترم حافظ عبدالقیوم، والی نورستان و محترم عبدالستار میرزکوال، والی کنر در مورد ماستر پلان انکشاف شهری ولایات متذکره دیدار نمود.**

هدف از تهیه ماستر پلان های انکشاف شهری تحرک اقتصادی، اتصال ولایات متذکره که شامل انکشاف و ساخت مکان های عام المنفعه مانند پل ها، پلچک ها، سرک ها و تمامی استندردهای شهر های مدرن می باشد که اساسی ترین بخش آنرا ساخت و انکشاف پوهنتون ها در ولایات متذکره مطابق به معیار های بین المللی تشکیل می دهد.



در این دیدار رؤسای ادارات محلی و نمایندۀ وزارت شهرسازی و اراضی نیز جضورداشتند، سرپرست وزارت مالیه گفت که قبل از تهیه ماسترپلان ها با مردم محل از نزدیک دیدار های منظم صورت بگیرد تا نیازمندی ها و نظریات شان در قسمت انکشاف این ولایات اخذ گردد و با شرکتی که در قسمت تهیه آن کار می نماید شریک ساخته شود.

والیان ولایات نورستان و کنر تهیه ماسترپلان را برای انکشف شهری ولایات متذکره مفید دانسته و از همکاری همه جانبه خویش اطمینان دادند.

در اخیر فیصله بعمل آمد که پلان استملاک زمین در ولایات متذکره از همین اکنون تهیه گردیده و وزارتخانه های مالیه، شهرسازی و اراضی و والیان ولایات متذکره امور مربوطه خویشرا به پایه اکمال برسانند.